# د یوحنا رسول لومړی لیک

## د کتاب پېژندنه

دا لیک یوحنا چې د ایماندارانو د ټولنې مشر ؤ د ۸۵ نه تر ۹۵ میلادي کلونو په شاوخوا کې لیکلی دی، دوه اصلي مقصدونه لري. لومړی دا چې ایمانداران دې ته هڅوي چې د عیسی مسیح له لارې د خدای سره په تړاو او دوستۍ کې ژوند وکړي. دوهم دا چې ایماندارانو ته خبرداری ورکوي چې د غلط تعلیم په هکله پام وکړي. غلط تعلیم په دې بنیاد باندې ولاړ ؤ چې مادي نړۍ په خپل ذات کې فاسده او ناپاکه ده او د هغې سره اړیکه نیول د ناپاکۍ سبب ګرځي. د دې ښوونکو یوې ډلې فکر کاوه چې د خلاصون دپاره باید بدن وځورول شي او بدن د قید نه ازاد شي. بلې ډلې دعوه کوله څرنګه چې خلاصون یوه روحاني موضوع ده چې د انسان د روح سره تړاو لري، نو کوم ګناهونه چې انسان یې د خپل بدن سره کوي، په روحي سلامتیا او خلاصون باندې هیڅ اغیزه نه لري، نو بیا انسان کولای شي چې په جسماني لحاظ هر کار وکړي.

لیکونکی د دې غلط تعلیم سره د مقابلې دپاره بیانوي چې عیسی مسیح په رښتیا سره انسان شو او انساني جسم یې اختیار کړ. لیکونکی د دې غلط تعلیم په وړاندې وایي چې زمونږ غوږونو د هغه تعلیم واورېد، زمونږ لاسونو هغه لمس کړ او زمونږ سترګو هغه ولیده، ترڅو دا ثابته شي چې د خدای زوی انسان ؤ. همدارنګه لیکونکی په دې باندې ټینګار کوي چې هغه ټول خلک چې په عیسی باندې ایمان لري او د خدای سره مینه کوي، باید د ګناه او بدۍ نه ځانونه لېرې وساتي او په ځانګړې توګه خپله مینه په عمل کې نورو ته ښکاره کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست

د ژوندون کلام: ۱:۱–۴
خدای رڼا ده: ۱:۵ – ۲:۲۷
د خدای اولادونه: ۲:۲۸ – ۳:۲۴
د خدای د روح او د شیطان د روح پېژندل: ۴:۱–۶
خدای مینه ده: ۴:۷–۲۱
د ایمان بریالیتوب: ۵:۱–۲۱

## د ژوندون کلام

۱ (۱) مونږ تاسو ته د هغه کلام په هکله لیکو چې ژوندون ورکوي یعنې هغه کلام چې له ازله
موجود ؤ او مونږ هغه اورېدلی او په خپلو سترګو مو لیدلی دی. هو، مونږ ورته وکتل او زمونږ
لاسونو هغه لمس کړي دي. (۲) هغه ژوندون مونږ ته ښکاره شو او مونږ هغه ولیده. نو مونږ د هغه
په هکله شاهدي ورکوو او د هغه تلپاتې ژوندون نه چې د پلار سره ؤ او مونږ ته ښکاره شو، تاسو
خبروو. (۳) څه چې مونږ لیدلي او اورېدلي دي تاسو ورباندې خبروو، ترڅو په هغه ملګرتیا کې
چې مونږ یې د پلار او د هغه د زوی عیسی مسیح سره لرو، تاسو هم زمونږ سره شریک شئ. (۴)
دا مونږ د دې دپاره تاسو ته لیکو چې زمونږ او ستاسو خوشحالي پوره شي.

## خدای رڼا ده

(۵) دا هغه پیغام دی چې مونږ د عیسی نه واورېد او تاسو ته یې اعلانوو: خدای رڼا ده او په هغه
کې هېڅ تیاره نشته. (۶) که چېرې مونږ وایو چې د خدای سره ملګرتیا لرو خو بیاهم په تیارو کې
اوسېږو، نو مونږ دروغجن یو او د رښتینولی د لارې سره سم ژوند نه تېروو. (۷) خو که چېرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ په رڼا کې ژوند کوو لکه څنګه چې هغه په رڼا کې دی، نو بیا مونږ په خپلو کې یو د بله سره
ملګرتیا لرو او د هغه د زوی عیسی وینه مونږ د خپلو ټولو ګناهونو څخه پاکوي. ۸ که چیرې
مونږ ووایو چې بې‌ګناه یو، نو مونږ خپل ځانونه غولوو او په مونږ کې حقیقت نشته. ۹ خو که
مونږ په خپلو ګناهونو باندې اقرار وکړو، نو هغه وفادار او عادل دی او هغه به زمونږ ګناهونه وبخښي
او مونږ به د ټولو بدیو څخه پاک کړي. ۱۰ که مونږ ووایو چې مونږ هیڅ ګناه نه ده کړې، نو خدای
دروغجن ګڼو او د هغه کلام زمونږ په زړونو کې ځای نه لري.

## مسیح زمونږ شفاعت کوونکی دی

۲ ۱ ای زما ګرانو بچیانو، زه دا خبرې د دې دپاره تاسو ته لیکم چې تاسو ګناه ونه کړئ. خو
که چیرې څوک ګناه وکړي، نو د پلار سره زمونږ یو څوک شته چې زمونږ شفاعت به کوي، یعنې
عیسی مسیح چې عادل دی. ۲ هغه په خپله زمونږ د ګناهونو کفاره کوونکی دی، یوازې زمونږ د
ګناهونو دپاره نه بلکې د ټولې نړۍ د ګناهونو دپاره.

۳ که چیرې مونږ د هغه په حکمونو باندې عمل وکړو، نو ډاډه یو چې هغه پېژنو. ۴ که چیرې
څوک وایي چې زه هغه پېژنم، خو د هغه په حکمونو باندې عمل نه کوي نو هغه دروغجن دی او
هیڅ رښتیا په هغه کې نشته. ۵ خو که څوک د هغه په کلام باندې عمل کوي، نو د هغه په زړه
کې په رښتیا سره د خدای دپاره مینه کامله شوې ده. نو په دې ډول کولای شو په دې ډاډه شو چې
مونږ د خدای سره ملګرتیا لرو. ۶ که چیرې څوک ووایي چې هغه د خدای سره په شراکت کې
اوسیږي، نو باید داسې ژوند وکړي لکه څنګه چې عیسی کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ګرانو دوستانو، زه تاسو ته کوم نوی حکم نه ليکم بلکې دا زوړ حکم دی، يعنې هغه حکم چې
د پيل نه تاسو ته درکړل شوی دی. دا زوړ حکم هماغه پيغام دی چې پخوا مو اورېدلی دی. ۸
خو بياهم زه تاسو ته يو نوی حکم ليکم او د هغه رښتينولي هم په مسيح او هم په تاسو کې ليدل
کيږي. ځکه چې تياره ورکيږي او حقيقي رڼا د ځلېدلو په حال کې ده.

۹ که څوک دا دعوه کوي چې هغه په رڼا کې ژوند تېروي خو د خپل ورور نه کرکه کوي نو هغه
لا تراوسه په تياره کې دی. ۱۰ که څوک د خپل ورور سره مينه کوي، نو هغه په رڼا کې اوسيږي
او د ګناه سبب به نه شي. ۱۱ خو که څوک د ورونو نه کرکه کوي، نو هغه به په تياره کې ژوند
کوي او په تياره کې به روان وي او په دې به نه پوهيږي چې چېرته روان دی، ځکه چې تيارې د
هغه سترګې ړندې کړي دي.

۱۲ ای ګرانو بچيانو، زه تاسو ته ليکم ځکه چې ستاسو ګناهونه د مسيح د نوم په خاطر بخښل
شوي دي.

۱۳ ای پلرونو، زه تاسو ته ليکم ځکه چې تاسو هغه پېژنئ چې له ازله موجود دی.

ای ځوانانو، زه تاسو ته ليکم ځکه چې تاسو په شيطان باندې برياڵي شوي يئ.

۱۴ ای ګرانو بچيانو، تاسو ته مې وليکل، ځکه چې تاسو پلار پېژنئ.

ای پلرونو، تاسو ته مې وليکل ځکه چې تاسو هغه پېژنئ چې له ازله موجود دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای ځوانانو، ما تاسو ته وليکل، ځکه چې تاسو قوي يئ او د خدای کلام په تاسو کې اوسيږي او
تاسو په شيطان باندې بريالي شوي يئ.

## د دنياوي شيانو سره مينه مه کوئ

۱۵ د نړۍ او هغو شيانو سره چې په نړۍ کې دي مينه مه کوئ، ځکه څوک چې د نړۍ سره مينه
کوي په هغه کې د پلار خدای دپاره مينه نشته. ۱۶ ځکه چې هر هغه څه چې په نړۍ کې دي
يعنې نفساني غوښتنې، د سترګو شوق او هغه شيان چې خلک ورباندې غرور کوي، هغه د پلار له
خوا نه بلکې د دې نړۍ شيان دي. ۱۷ دنياوي غوښتنې تېرېدونکې دي، خو څوک چې د خدای
رضا پوره کوي هغه به تل ترتله ژوندی وي.

## د مسيح دښمن

۱۸ ګرانو بچيانو، دا اخرنی وخت دی. تاسو اورېدلي وو چې د مسيح دښمن راروان دی او اوس د
مسيح ډېر دښمنان راښکاره شوي دي، نو له دې امله مونږ پوهېږو چې دا اخرنی وخت دی. ۱۹ دا
خلک زمونږ سره نه وو، نو ځکه هغوی زمونږ نه لاړل. که هغوی زمونږ وای، نو زمونږ سره به پاتې
شوي وای. خو کله چې هغوی لاړل، نو معلومه شوه چې هغوی په رښتيا سره زمونږ نه وو.

۲۰ خو د خدای سپېڅلي يعنې مسيح تاسو د روح القدس په وسيله مسح کړي يئ، نو له همدې
امله تاسو ټولو ته حقيقت معلوم دی. ۲۱ نو دا مې تاسو ته له دې امله نه دي ليکلي چې د حقيقت
څخه بې‌خبره يئ، بلکې دا چې تاسو ورباندې خبر يئ او همدارنګه تاسو پوهېږئ چې دروغ
هيڅکله هم د رښتيا څخه نه راپيدا کيږي.

۲۲ نو بيا هغه دروغجن څوک دی؟ دا هغه څوک دی چې وايي چې عيسی هماغه مسيح نه دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا سړی د مسیح دښمن دی ځکه چې هغه پلار او زوی دواړه نه مني. ۲۳ څوک چې زوی نه
مني، نو پلار هم نه مني او څوک چې زوی ومني نو پلار يې هم منلی دی. ۲۴ نو ګورئ، تاسو
چې له پيل نه کوم څه اورېدلي دي هغه په خپلو زړونو کې وساتئ. که داسې وکړئ، نو تاسو به هم
د زوی او پلار سره په شراکت کې واوسېږئ. ۲۵ او دا هغه څه دي چې خپله مسیح وعده کړې ده
چې مونږ ته به تلپاتې ژوندون راکوي.

۲۶ زه دا شیان د هغو خلکو په هکله تاسو ته لیکم چې غواړي تاسو بې‌لارې کړي. ۲۷ خو
مسیح تاسو ته روح القدس درکړی دی او هغه په تاسو کې اوسیږي، نو تاسو اړتیا نه لرئ چې کوم
څوک درته تعلیم درکړي. ځکه چې روح القدس تاسو ته د ټولو شیانو په هکله تعلیم درکوي او د
هغه تعلیم حقیقي تعلیم دی او دروغ په کې نشته. نو لکه څنګه چې هغه درته تعلیم درکړی دی د
هغه سره په شراکت کې واوسېږئ.

## د خدای اولادونه

۲۸ هو، ای ګرانو بچيانو! د هغه سره په شراکت کې اوسئ چې کله هغه راښکاره شي نو مونږ به
ډاډه اوسو او د هغه په راتللو سره به د هغه په حضور کې ونه شرمېږو. ۲۹ څرنګه چې تاسو په
دې پوه شوي يئ چې مسیح عادل دی، نو باید ډاډه اوسئ چې هرڅوک چې عدالت کوي هغه د
خدای روحاني اولاد دی.

۳ ۱ ګورئ، پلار مونږ ته څومره ډېره مینه راکړې ده. د هغه مینه دومره زیاته ده چې مونږ د
خدای د اولادونو په نوم یادېږو او په حقیقت کې مونږ همداسې یو. دا چې نړۍ مونږ نه پېژني علت
يې دا دی چې هغه يې نه دی پېژندلی. ۲ ګرانو دوستانو، اوس مونږ د خدای اولادونه یو، او دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څنګه واوسو، تراوسه معلومه نه ده. خو په دې پوهېږو چې کله مسیح راښکاره شي نو مونږ به
د هغه په شان شو، ځکه چې هغه به هماغه شان ووینو لکه څنګه چې دی. ۳ هرڅوک چې د
مسیح نه دا هیله لري، نو هغه خپل ځان داسې پاک ساتي لکه څنګه چې مسیح پاک دی.

۴ هرڅوک چې ګناه کوي هغه شریعت ماتوي، ځکه چې ګناه په خپله د شریعت ماتول دي. ۵
تاسو پوهېږئ چې مسیح د دې دپاره راغی چې ګناهونه لېرې کړي او په هغه کې هېڅ ګناه نشته.
۶ نو هرڅوک چې د مسیح سره په شراکت کې اوسېږي هغه نوره ګناه نه کوي او هرڅوک چې د
ګناه کولو عادت لري، هغه یې هېڅکله نه لیدلی او نه یې پېژندلی دی.

۷ ای ګرانو بچیانو! مه پرېږدئ چې څوک تاسو بې‌لارې کړي. هرڅوک چې نېک کارونه کوي
هغه نېک دی، لکه څنګه چې مسیح نېک دی. ۸ هرڅوک چې د ګناه کولو عادت لري هغه د
شیطان اولاد دی، ځکه چې شیطان د ازله ګناه کوله، خو د خدای زوی د همدې دپاره راغی چې د
شیطان کارونه برباد کړي.

۹ هرڅوک چې د خدای اولاد وي هغه د ګناه کولو عادت نه لري، ځکه چې په هغه کې د خدای
ذات دی. هغه د خدای اولاد دی، نو ځکه ګناه نه شي کولای. ۱۰ د خدای د اولاد او د شیطان د
اولاد ترمنځ فرق ښکاره دی. څوک چې نېکي نه کوي او یا د ورونو سره مینه نه کوي هغه د خدای
اولاد نه دی.

## د یو بل سره مینه کوئ

۱۱ کوم پیغام چې تاسو له پیل نه اورېدلی دی هغه دا دی: د یو بل سره باید مینه وکړو. ۱۲
مونږ باید د قاین په شان ونه اوسو. هغه د شیطان اولاد ؤ او خپل ورور یې مړ کړ. هغه یې ولې مړ
کړ؟ ځکه چې د هغه خپل عملونه بد وو او د ورور کارونه یې نېک وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ نو زما ورونو! که چېرې د نړۍ خلک ستاسو نه کرکه کوي، نو په دې مه حیرانېږئ. ۱۴
مونږ پوهېږو چې د مرګ نه تېر شوي یو او ژوندون ته راغلي یو، ځکه چې د خپلو ایماندارانو
خویندو او ورونو سره مینه کوو. او په چا کې چې مینه نشته هغه لا تراوسه د مرګ په حال کې دی.
۱۵ هرڅوک چې د خپل ورور نه کرکه کوي، هغه قاتل دی او تاسو پوهېږئ چې هېڅ قاتل تلپاتې
ژوندون نه لري. ۱۶ نو له همدې امله مونږ پوهېږو چې مینه څه شی دی، ځکه چې مسیح زمونږ
په خاطر خپل ځان قربان کړ، نو مونږ هم باید خپل ځانونه د ورونو په خاطر قربان کړو. ۱۷ که
چېرې کوم څوک دنیاوي شتمني ولري او ګوري چې ورور یې محتاج دی او زړه ورباندې نه
سوځوي، نو هغه څنګه دعوه کولای شي چې په زړه کې یې د خدای مینه شته؟ ۱۸ ګرانو بچیانو!
زمونږ مینه دې یوازې په خبرو یا په ژبه نه بلکې عملي او رښتیني وي.

## په پوره ډاډګېرنه خدای ته ورتګ

۱۹ نو په دې به مونږ پوه شو چې مونږ د حقیقت پیروان یو او له دې امله به زمونږ زړونه د خدای
په حضور کې ډاډه وي. ۲۰ که چېرې زمونږ وجدان مونږ ملامتوي، نو مونږ ډاډه یو چې خدای
زمونږ د وجدان نه ډېر لوی دی او د هرڅه نه خبر دی. ۲۱ ګرانو دوستانو! که چېرې زمونږ
وجدان مونږ نه ملامتوي، نو کولای شو چې په ډاډه زړه د خدای حضور ته راشو ۲۲ او هرڅه
چې ورڅخه وغواړو هغه یې راکوي، ځکه چې مونږ د هغه په حکمونو باندې عمل کوو او هرڅه
چې هغه خوښوي هماغه کار کوو. ۲۳ د هغه حکم دا دی چې مونږ باید د هغه د زوی عیسی
مسیح په نوم ایمان راوړو او د یو بل سره مینه وکړو لکه څنګه چې مسیح مونږ ته حکم کړی دی.
۲۴ هرڅوک چې د خدای په حکمونو باندې عمل کوي، نو هغه په خدای کې اوسېږي او خدای
په هغه کې. په دې ډول مونږ پوهېږو چې هغه د روح القدس په وسیله چې مونږ ته یې راکړی دی،
په مونږ کې اوسېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای د روح او د شیطان د روح پېژندل

۴ ۱ ګرانو دوستانو، په هر روح باندې باور مه کوئ، بلکې هغه وازمايئ ترڅو ووينئ چې ايا
هغه روح د خدای له خوا دی يا نه. ځکه چې په نړۍ کې ډېر جعلي پيغمبران راپيدا شوي دي. ۲
په دې ډول د خدای روح پېژندل کيږي: که چېرې څوک په دې اقرار وکړي چې عيسی مسيح د
انسان په جسم کې راغلی دی، نو هغه د خدای له خوا دی. ۳ خو هر روح چې په دې اقرار نه
کوي چې عيسی د خدای له خوا دی، نو دا د مسيح د دښمن روح دی چې د هغه په هکله مو
اورېدلي دي چې نړۍ ته به راځي او هغه همدااوس په دې نړۍ کې موجود دی.

۴ خو ای ګرانو بچيانو! تاسو د خدای يئ او تاسو په جعلي پيغمبرانو باندې بری موندلی دی،
ځکه هغه روح چې په تاسو کې دی هغه د هغه چا نه ډېر قوي دی کوم چې د دې نړۍ دی. ۵
هغوی د دې نړۍ دي او نړۍ د هغوی خبرې اوري، ځکه چې هغوی د دنياوي شيانو په هکله
خبرې کوي. ۶ خو مونږ د خدای يو او هرڅوک چې خدای پېژني هغه زمونږ خبرو ته غوږ
نيسي. څوک چې د خدای سره اړيکه نه لري، هغه زمونږ خبرو ته غوږ نه نيسي. په دې ډول مونږ
رښتينی روح او دروغجن روح پېژنو.

## خدای مينه ده

۷ ګرانو دوستانو، راځئ چې د يو بل سره مينه وکړو، ځکه چې مينه د خدای له خوا ده.
هرڅوک چې مينه کوي هغه د خدای اولاد دی او خدای پېژني. ۸ خو څوک چې مينه نه کوي
هغه خدای نه پېژني، ځکه چې خدای مينه ده. ۹ د خدای مينه مونږ ته په دې ډول ښکاره شوه
چې خپل يوازېنی زوی يې نړۍ ته راولېږه، ترڅو د هغه په وسيله مونږ تلپاتې ژوندون ولرو. ۱۰
مينه همدا ده: دا نه ده چې مونږ د خدای سره وکړه، بلکې په دې کې ده چې خدای زمونږ سره وکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زمونږ د ګناهونو د کفارې دپاره يې خپل زوی راولېږه ترڅو زمونږ ګناهونه وبخښل شي. ۱۱
ګرانو دوستانو! څرنګه چې خدای زمونږ سره داسې مينه وکړه، نو مونږ هم بايد يو د بل سره مينه
وکړو. ۱۲ هېچا هم هېڅکله خدای نه دی ليدلی، خو که چېرې مونږ يو د بل سره مينه ولرو، نو
خدای په مونږ کې اوسيږي او د هغه مينه به په مونږ کې کامله شي.

۱۳ خدای مونږ ته روح القدس راکړی دی، نو ځکه مونږ پوهېږو چې مونږ په هغه کې اوسېږو او
هغه په مونږ کې اوسيږي. ۱۴ مونږ په خپلو سترګو ليدلي او شاهدي ورکوو چې پلار خدای خپل
زوی راولېږه ترڅو د نړۍ خلاصوونکی اوسي. ۱۵ که څوک اقرار کوي چې عيسی د خدای زوی
دی، نو خدای به په هغه کې اوسيږي او هغه په خدای کې. ۱۶ مونږ پوه يو او باور لرو چې خدای
زمونږ سره مينه لري. خدای مينه ده او هرڅوک چې په مينه کې خپل ژوند تېروي، نو هغه په خدای
کې اوسيږي او خدای په هغه کې اوسيږي. ۱۷ په دې وسيله د خدای مينه په مونږ کې کامله شوې
ده چې د قضاوت په ورځ ډاډه اوسو، ځکه چې په دې نړۍ کې زمونږ ژوند د عيسی د ژوند په شان
دی. ۱۸ په مينه کې وېره نشته، کامله مينه وېره لېرې کوي. څوک چې وېرېږي، نو هغه وېره د سزا
په خاطر ده او په هغه کې مينه کامله شوې نه ده.

۱۹ مونږ په دې خاطر د يو بل سره مينه کوو ځکه چې لومړی خدای زمونږ سره مينه وکړه. ۲۰
که چېرې څوک ووايي چې زه د خدای سره مينه لرم، خو د خپل ورور نه کرکه کوي، نو هغه
دروغجن دی. که چېرې هغه خپل ورور سره چې ليدلی يې دی مينه نه کوي، نو دا نه شي کېدلی
چې د خدای سره چې نه يې دی ليدلی مينه وکړي. ۲۱ مسيح چې کوم حکم مونږ ته راکړی دی،
هغه دا دی: هرڅوک چې د خدای سره مينه کوي بايد د خپل ورور سره هم مينه وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په نړۍ باندې بریالیتوب

۵ ۱ هرڅوک چې په دې باندې ایمان لري چې عیسی هماغه مسیح دی، نو هغه د خدای اولاد
دی او په هرچا باندې چې پلار ګران وي، نو د هغه اولاد به هم ورباندې ګران وي. ۲ که چېرې
مونږ د خدای سره مینه ولرو او د هغه په حکمونو باندې عمل وکړو، نو بیا مونږ پوهېږو چې د
خدای د اولادونو سره مینه کوو. ۳ دا د خدای سره مینه ده چې د هغه په حکمونو باندې عمل
وکړو. د هغه حکمونه سخت نه دي، ۴ ځکه چې د خدای هر اولاد کولای شي چې په نړۍ
باندې بری ومومي او دا بری زمونږ د ایمان په وسیله ترلاسه کیږي. ۵ هغه څوک دی چې په
نړۍ باندې بری مومي؟ یوازې هغه څوک چې په دې ایمان لري چې عیسی د خدای زوی دی.

## د خدای د زوی په هکله شاهدي

۶ عیسی مسیح هغه څوک دی چې د اوبو د تعمید او د خپلې وینې په تویولو سره راغی. هغه
یوازې د اوبو سره نه بلکې د اوبو او وینو دواړو سره راغی. او روح القدس د دې شاهدي ورکوي،
ځکه چې روح القدس حقیقت دی. ۷ نو درې شاهدان شته: ۸ یعنې روح القدس، اوبه او
وینه، او درې واړه سره موافق دي. ۹ خرنګه چې مونږ د انسان شاهدي منو، نو د خدای شاهدي
ډېره قوي ده او دا هغه شاهدي ده چې هغه د خپل زوی په هکله ورکړې ده. ۱۰ هرڅوک چې د
خدای په زوی باندې ایمان لري، نو دا شاهدي به د هغه په زړه کې وي. خو څوک چې په خدای
ایمان نه لري نو هغه خدای دروغجن ګڼي، ځکه چې هغه د خدای په شاهدی باندې چې د خپل
زوی په هکله یې ورکړې ده، ایمان نه لري. ۱۱ هغه شاهدي دا ده: خدای مونږ ته تلپاتې ژوندون
راکړی دی او دا ژوندون د هغه په زوی کې دی. ۱۲ د هرچا سره چې د خدای زوی وي، نو هغه
تلپاتې ژوندون لري او د چا سره چې د خدای زوی نه وي، نو هغه تلپاتې ژوندون نه لري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ دا خبرې مې تاسو ته چې د خدای د زوی په نوم ایمان لرئ ولیکلې چې په دې پوه شئ چې
د تلپاتې ژوندون خاوندان یئ. ۱۴ او دا هغه اعتماد دی چې مونږ یې په خدای لرو چې که د هغه
نه کوم څه چې د هغه د رضا سره برابر وي وغواړو، نو هغه به یې اوري. ۱۵ که چېرې مونږ په
دې پوهېږو چې کله چې د هغه نه هرڅه وغواړو نو هغه یې اوري، نو په دې باندې هم باید پوه شو
چې که هرڅه د هغه څخه وغواړو نو مونږ ته یې راکوي.

۱۶ که چېرې څوک خپل ورور په داسې ګناه کولو ووینې چې نتیجه یې مرګ نه وي، نو د هغه
دپاره دې خدای ته دعا وکړي او خدای به ورته ژوند ورکړي، یعنې هغه چاته چې داسې ګناه یې نه
ده کړې چې انجام یې مرګ وي. خو داسې ګناه هم شته چې انجام یې مرګ دی او زه دا نه وایم
چې تاسو د هغه دپاره دعا وکړئ. ۱۷ ټول بد کارونه ګناه ده، خو داسې ګناه هم شته چې انجام یې
مرګ نه وي.

۱۸ مونږ پوهېږو چې د خدای اولادونه د ګناه کولو عادت نه لري، ځکه چې د خدای زوی د
هغوی ساتنه کوي او شیطان ورته زیان نه شي رسولی. ۱۹ مونږ پوهېږو چې د خدای یو، او نوره
ټوله نړۍ د شیطان د لاس لاندې ده.

۲۰ مونږ پوهېږو چې د خدای زوی راغلی دی او مونږ ته یې پوهه راکړه چې رښتینی خدای
وپېژنو. مونږ د رښتیني خدای او د هغه د زوی عیسی مسیح سره ملګرتیا لرو. هغه رښتینی خدای او
تلپاتې ژوندون دی.

۲۱ ګرانو بچیانو، خپل ځانونه د بتانو نه لېرې وساتئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.